کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ تر منځه و نو مور به د هر کوچني او لوی، ازاد او غلام سرسایه له خوړو یوه پیمانه، یا له کورتو یوه پیمانه، یا له وربشو یوه پیمانه، یا له خرماوو یوه پیمانه او یا له ممیزو یوه پیمانه ورکوله

له ابو سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ تر منځه و نو مور به د هر کوچني او لوی، ازاد او غلام سرسایه له خوړو یوه پیمانه، یا له کورتو یوه پیمانه، یا له وربشو یوه پیمانه، یا له خرماوو یوه پیمانه او یا له ممیزو یوه پیمانه ورکوله، تر هغه پورې مور همداسې سرسایه ورکوله تر څو چې معاویه بن ابی سفیان رضي الله عنه د حج او یا عمرې لپاره راغی نو خلکو سره یې په منبر خبرې وکړې، په خپلو خبرو کې وویل: زما په اند چې د شام دوه لپې غنم د خرماوو د یوې پیمانې سره برابر دي، نو خلکو په همدې عمل وکړ، ابو سعید وویل: ما چې پخوا کومه سرسایه ورکوله لدې وروسته یې هم وباسم او تر څو چې ژوندی یم د تل لپاره به همداسې کوم (یعنې بدلون په کې نه راولم).

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

مسلمانانو به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې او له هغه وروسته د خلفاوو راشدینو په دوره کې د کوچنیانو او بوډاګانو له خوا د یو صاع خوراک په اندازه د فطر صدقه ورکوله. د هغوی خواړه وربشې، ممیز، کورت او خرما وې. د یوه صاع اندازه څلور امداد ده او یو مد د معتدل سړي د لاسونو د ډکوالي سره برابر دی (لپه). کله چې معاویه رضي الله عنه د خلیفه په حیث مدینې ته راغی او شامي غنم زیات شوي وو نو ویې فرمایل: زما په اند د شام دوه لپې غنم (نیم صاع) د خرماوو د یو صاع سره برابر دي، نو خلکو یې په وینا عمل وکړ. ابو سعید الخدري رضي الله عنه وویل: زه چې یم نو څنګه مې چې پخوا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې سرسایه ورکوله په همغه اندازه یې له دې وروسته هم ورکوم، تر څو چې ژوندی یم.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4454